
# د تنقید عقل محض پیژندګلو




عنایت افغان

د جرمنی لوئ فلسفی ایمانویل کانټ ځان د کوپرنیکس سره موازنه کړے وو او دا یې وئیلی وو چې ما په فلسفه کښې کوپرنیکی انقلاب راوستو کانټ چې خپل کتاب کریټیک اپ پیور ریزن دومره نازولے وو چې د کانټ مرګ له مرګ راغې او دا هغه لوئ خدمت وو چې ساینس ته خپله لاره وښودلے شوه او د کانټ نه پس چې څومره انقلابونه راغلې دي په څه نا څه صورت کښې ددغه انقلابونو شاته د کانټ د فلسفے خاموشه روح موجود دے.

ددې کتاب د اهمیت سره سره ددې کتاب د مبهمتیا نه هم انکار نه کیږی هر څوک چې ددې کتاب نوم اخلی او دا کتاب یې لوستلے وې نو دا کتاب د خپل سر د درد د وجوهاتو نه یوه وجه ګڼې او په دې لوئ فلیسوف ارتهر شوپنهار ګواه دے

بهر حال ددې هر څه سره دا یوه وړه شان هڅه ده او د غیر پښتنو د یو پیغور نه ځان بچ کول دې چې تر اوسه پورې پښتنو کانټ د وجودیانو په صف کښې ودرولے وو او دا وړه شان هڅه ددې کتاب د پیژندګلو د وضاحت په صورت کښې ده ځکه کانټ دا پیژندګلو داسې لیکلی ده چې د کتاب دننی سمندر د ژورتیا اندازه ترې کیدے شی ما دا په یوه اسانه ژبه بیان کړی دې او زه دا د پیژندګلو وضاحت بلکل مکمل نه ګڼم زه غواړم چې په فلسفه کښی مونږ د کانټ په اوږه لاس کیږدو او د هیګل په رهبری کښې د مارکسی فلسفے د سمندر سیل له لاړ شو چې دا کار تر اوسه پوری په یو منظم انداز سره نه دے شوے زما مقصد ددې کار چې زه یې په کانټ پسی یوه پچموزه ګڼم چې یو تن هم د فلسفے لوست ته تیار کړی نو دا به لویه ګټه وی دا ټول کار به کولاو وې د نور وضاحت او تصحیح د پاره ۔۔ دا اخری خبره چې په سر کښې پکار وه دا ده چې دا لیکل د فیسبوک پورې محدود دې

**پیژندګلو**

کانټ چې د کریټیک اف پیور ریزن په انټروډکشن کښې څه لیکلې دې هغه د وضاحت سره ستاسو مخې ته ږدم د پیژندګلو نه وروسته به یی په نورو اړخونو خبره کوو ۔۔۔۔مخکښې له دې نه چې مونږ د پیژندګلو وضاحت او په دې تنقیدی نظر رامخی ته کړو دا terms کوم چی کانټ په پیژندګلو کښې کاروی کانټ پخپله هم تر څه حده ددې وضاحت کوې خو که مونږ یی د مبهمتیا نه راوباسو نو د کانټ په باریک نظر بیا رسا پوهه لرلے شو کوم چی مخکښې را روان دے

** apriori _____ aposteriori

ددی دواړو تر مینځه فرق په epistemological بنیادونو دے --- a priori به هغه علم وی کوم چی د تجربی نه ازاد وی او a posteriori به هغه علم وی کوم چی تجرباتی وی یا په نورو لفظونو کښې چی د تجربی نه لاندی اخذ کیږي

خو د a priori او/innate knowladge پیدایشی یا فطری علم تر مینځه فرق شته innate knowladge به هغه وی کوم چی زمونږ د پیدا کیدلو سره پیدا شوے دے کانټ ددی دوه علمونو تر مینځه فرق کوی مثال په توګه --- مونږ ته د مور د خیټی نه دا نه وو یاد چی 8 - 13 = 5 ولی چی مونږ اول ددی شمارل زده کړې دې نو دا a priori نالج به پیدایشی علم نه وي ځکه چی ددی د پاره زمونږ ذهن ته basic arithmetic راغلی دې نو مونږ پیژنو چی دا علم د تجربی experience / نه ازاد دے

یو علم به a priori کله وی ؟ نو کانټ ددی د پاره دوه اصول جوړوی یو ضرورت necessity/ بل ـ/universality افاقیت

کانټ وایی

if something is true a priori we do not just know what it happens to be true but we know it must be so

لکه مثال په توګه مونږ دا پیژنو چی

زمونږ سره به 8 - 13 = 5 وی ځکه چی ددی بل صورت جوړیدلے نشی. خو دا به په a posterioriکښی داسی نه وی

لکه داسی چی د ټولو سپو د شپږو نه پښې کمې وې خو کیدیشی چی داسی سپې هم وې چی د هغوی اته پښې وې

څومره پوری چی د universality(2) خبره ده نو کانټ دا ثابتوی چی experienceکله هم strict universality نه پیدا کوی البته generality/عمومیت پیدا کولے شی

لکه که مونږ دا پیژنو چی یو څیز بیخی په strict universality پوره وی نو مونږ به دا هم پیژنو چی مونږ ته ددی experience نه دے شوے یو judgement به هله

universalityلري چې کله مونږ دا پیژنو چې دا اعتراض نه لري لکه مونږ دا نه پیژنو چې 8 - 5 = 13 به حتمی رښتیا وی خو دا د اعتراض نه بغیر رښتیا دي

بیا تجرباتی یا empirical knowladge بدل شې دے لکه مونږ چې څه د تجربې نه تیر کړي وی مثال په توګه که دی کښې مونږ وایو چې ټول کارغان تور وي خو کیدیشی داسی کارغان هم وي چې هغه سپین وي

کانټ دا یادونه کوی چې د apriori knowladge مونږه لکه د empirical knowladgeغلط نشو ثابتولے

ادراکcognition /

کانټ د " پیژندګلو " په اولنۍ جملی کښې د " ادراک " لفظ استعمالوی چې د کانټ د نظر نه یی پیژندنه لازمی ده

د ادراک تعریف مونږ داسی کولے شو چې د شیانو هغه علم کوم چې مونږ د تصور په ذریعه حاصل کړے وی او شاته پسی د احساس او تفهیم لاس وی

ددی د پاره کانټ ډیر ښه غږیدلے وو هغه وئیلی وو چې بغیر د sensibility نه زمونږ ذهن څه څیز نشی اغستلے او بغیر د understanding نه مونږ په یو څیز سوچ نشو کولے او بغیر د سوچ نه مواد خالی وي او د concept نه بغیر وجدان ړوند وي

ادراک د حقیقت د تصور سره ډیر ژور تعلق لری ځکه خو کانټ دا استدلال کوی چې که یو خیال اعتراض لری نو بیا هم حقیقت په ژورو معنو کښې ددغه خیال سره په معاهده ولاړ دے

کانټ د خپل دې کتاب په وروستۍ حصې کښې د انسان د ادراک په صلاحیت یوه موضوع لیکی چې په درې faculties مشتمله وی

اولنۍ فیکلټی ته کانټ sensibilty وایی چې ددی په ذریعه د وجدان د لاری شیان ورکړے کیږی

دویمی فیکلټی ته کانټ understanding وایی د کومی په ذریعه چې په شیانو سوچ کولے شو او د تصوراتو لاندی یی کینولے شو او دریمه د reason فیکلټی کانټ داسی واضحه کوی چې دا د syllogistic inferences سره تعلق لری کوم چې زمونږ سوچ منظم کوی او د تصوراتو یو تصوراتی پروګرام جوړوی

نور د کانټ د مبهم نظر نه چې کوم ترمز مخې ته راځې د هغې وضاحت به په خپل ځائے کیږی پورته وضاحت په " پیژندګلو " د پوهیدلو د پاره لازمی دے

کانټ د " پیژندګلو په اول سر کښې د "سوچه" او "تجرباتی علم " تر مینځه په فرق خبره کوی او دا وایی چې په دی کښې هیڅ شک نشته چې زمونږ د ټولو علمونو ابتدا د تجربی نه کیږی او د پیژندګلو په مینځ کښې هم دا وایی چې زمونږ علم د تجربی نه مخکښې نه دے بلکې د تجربی نه شروع کیږی

## 1. د سوچه او تجرباتی علم تر مینځه فرق

کانټ د انټروډکشن په اولنۍ حصه کښې د پیور/سوچه او تجرباتی علم تر مینځه فرق رامخې ته کوې او تجربه/ ایکسپیرینس ته یوه لاره جوړوی

کانټ وایی " په دې کښې شک نشته چې زمونږ د ټولو علمونو ابتدا د تجربې نه کیږی خو ددې خبرې به دا مطلب نه وې چې زمونږ د ټولو علمونو ماخذ هم تجربه ده ځکه چې زمونږ تجرباتی علم مرکب هم کیدے شی د احساساتو او د ادراکی قوت د اضافې ـ ـ ـ او ددې دواړو تر مینځه په فرق کولو سره مونږ د علم اصل ماده پیژندلے شو

غرض دا مسئله چې یو داسې علم هم کیدے شی چې په هغې کښې د تجربې بلکی د هیڅ یو حسی ادراک ګډون نه وې ؟ دا قسم علم به بدیهی apriori /علم وی او د کوم علم ماخذ چې تجربه وې هغه به تجرباتې aposteriori / وې هغه apriori علم په کوم کښې چې د تجربې دخل وې هغه به impure apriori وې

دلته د بدیهی apriori / د پوره پیژندنې د پاره د نور وضاحت ضرورت دے مونږ به یې د مثال سره واضح کړو

"د مربع square/څلور اړخونه وې" دې مثال کښې دوه پوائنټونه دې "مربع" او "څلور اړخونه"

دلته مربع پیور apriori کنسیپټ دے ځکه چې دا مونږ د تجربې نه بغیر پیژندلے شو چې د څلورو یو شان اړخونو جیومیټریک شکل به مربع وې

"دلته "څلور اړخونه " هم pure apriori کنسیپټ دے ځکه چې مونږ د حسابې تجربې څخه لاندې دا بغیر تجربی نه پیژنو

نو "مربع" او "څلور اړخونه" دوه جلا جلا pure apriori دې

خو دا خبره چې د " مربع څلور اړخونه دې " کله هم pure apriori علم نه دے بلکی دا impure apriori علم دے دلته د دوه apriori علمونو څخه impure apriori جوړیږی ځکه چې دا کامله تجرباتی خبره ده ( د بدیهی او تجرباتی علم تعریف یاد ساتی ) ځکه دلته مونږ خپل جیومیټریکل انډرسټینډنګ مادې نړۍ ته ایپلایی کړو

د نور وضاحت د پاره وس د impure apriori په اړه د کانټ مثال له راځو

کانټ وایې چې خلک اکثر هغه علم چې د تجربې نه یې اخذ کړے وی بدیهی علم ګڼې لکه مثال په توګه که یو سړے د خپل کور بنیادونه را اوکنې نو خلک وایې چې دا خبره ده ته بدیهی طور معلومه وه چې دده کور را غورځیدلو یعنی ده ته د خپل کور د راغورځیدلو د انتظار ضرورت نه وو چې خپل کور واقعې په زمکه پروت وینې خو که لګ غور وکړو دې سړې ته دا خبره په بدیهی apriori / توګه بلکل نه وه معلومه ــ چی د سپورټ د لرې کولو نه پس به کور راغورځیږی نو دا ده په تجرباتی توګه پیژندله

له دې وجې نه مونږ به خالص بدیهی apriori/علم هغې ته وایو چې د یوې مخصوصې تجربې څخه نه بلکی د مطلق تجربې نه ازاد وې چی د هیڅ قسم تجربې دخل پکښې نه وې او ددې پر ضد تجرباتی aposteriori/علم دے چی د تجربې په ذریعه یې مونږ حاصلولے شو

په apriori علم کښې هغه علم چې د تجربې پکښې بیخی دخل نه وی هغه به pure apriori وې د نور وضاحت د پاره د کانټ خپل مثال راخلو

دا قضیه چې " every change has a cause " کله هم pure apriori علم نه دے ځکه چې change هغه تصور دے چې مونږ د تجربې نه اخذ کړے وې

## 2. **مونږ د ځینې شیانو بدیهی علم لرو او د عام انسان ذهن هم ددغه علم څخه خالې نه وې**

په دې موضوع کښې چې کومې بنیادی خبرې دې زه هغې ته ستاسو پام راړول غواړم

کانټ دا غوښتنه کوی چې مونږ ته د یو داسې علامت یا پیمانې ضرورت دے چې د هغې تر مخه مونږ په بدیهی apriori/او تجرباتی aposteriori/کښې فرق وکړو او تجربه مونږ ته

صرف د یو څیز ضرورت رامخې ته کوې یعنی یو څیز چې په کوم صورت کښې دے هم دغه څیز په بل صورت کښې کیدلے شې نو تجربه مونږ ته دا نه ښایې

نو اولنۍ خبره دا چې یوه قضیه چې په خپل بنیادې کنسیپشن کښې د ضرورت necessity/تصور لری خو چې دا تصور د هر قسم تجرباتی عناصرو څخه پاک وی نو دا به مطلق یا خالص بدیهی absolutely apriori/علم وی

دویمه خبره دا چې په تجرباتی علم کښې حقیقی یا قطعی افاقیت strict/ universalityنه وې او که چرته تجرباتی علم سره مونږ قطعی افاقیت تړو نو مونږ به بیا دا هم وایو چی مونږ ته ددې تجربه نه ده شوی نو دا به هم خالص بدیهی علم وی دلته د استقرا خبره پکښې یاد ساتل پکار دې خو زه یې په تفصیل کښې نه ځم ځکه چې بیا د ډیوډ هیوم حوالې له هم تلل غواړی او ملګرې اختصار خوښوې ـ۔ او تجرباتی افاقیت ددې نه سیوا څه نه دې چې کومه خبره په اکثر صورتونو کښې صحیح وې مونږ یې په ټولو صورتونو کښې صحیح ګڼو لکه دکانټ خپل مثال چې " ټول شیان درانه وې " او ددې بر عکس چې قطعی افاقیت رامخې ته شې نو دا بیا په یو مخصوص علم دلالت کوی کوم ته چې کانټ cognition apriori وایی

دلته بیا مونږ د ضرورت، افاقیت او خالص بدیهی علم خصوصیات را مخکښې کوو چې پېژندل یې اسان وې

- افاقیت

  چې هر ځائے کښې یو شان وې

- ضرورت

  چی بل صورت یې جوړ نه وې او د اعتراض نه بغیر رښتیا وې

- خالص بدیهی علم

یعنی چې په خپل ځان کښې ضرورت او افاقیت لرې او د تجرباتو عناصرو نه بیخی پاک وې

کانټ دا پیمانه د ضرورت او افاقیت جوړه کړی وه چې مونږ یې جلا جلا استعمال کړو او ددې په مدد سره مونږ په بدیهی او تجرباتی علم کښې فرق وکړے شو وس دا خبره به اسانه وې چې مونږ په انسانی ذهن کښې بدیهی علم وپېژنو کوم چې ضرورت او قطعی افاقیت لری که مونږ یو باریک مثال اخلو نو د ریاضۍ علم او که اسان مثال اخلو نو هم هغه مخکینے مثال چې every change has a cause

لنډه دا چې مونږ خپل apriori cognition کښې بدیهی عملونه ددې د علامتونو نه معلوموو او بعضې وخت کښې تصوراتو نه خو ځنی وخت کښې تصور هم د خپل ماخذ نه بدیهی وی لکه زمونږ په ذهن کښې د یو څیز بدیهی تصور پروت دے نو ددې څیز ټول اجزا یعنی رنګ، سختی، نرمی او تر دې پوری چې ددې ټهوس پن هم لرې کړو نو بیا هم ددې/space مکان باقی پاتې کیږې کوم چې دې څیز ګیر کړے وو او مکان خو مونږ په نیشت نشو تصور کولے له دې وجې نه که مونږ د یو څیز ټول صفتونه د هغې نه لرې کړو نو بیا به هم د هغه څیز خاصیت پاتې وې د کوم په بنیاد چې مونږ ددې څیز تصور کولے شو له دې وجې نه ددې ضرورت necessity /په بنیاد مونږ له دا منل پکار دې چې ددې ماخذ زمونږ faculty of cognition apriori دے چې زمونږ ذهن کښې وې

## 3. فلسفے ته د يو داسې علم ضرورت دے چې د ټول بديهي معلوماتو امکان, اصول او حدود وټاکې

مخکښې چې کومې خبرې وشوې د هغې نه زياته لازمی خبره دا ده چې ځنې معلومات زمونږ د امکانې تجربې نه پرته وې او داسې د تصوراتو په ذريعه سره د کوم چې څه معروض په مقابله کښې موجود نه وې په ظاهره سره زمونږ د ججمنټ دايره د تجربی د حدودو نه ډير پراخه کوی

د علم په دغه سرحد کښې چرته چې تجربه مونږ ته لاره نه رڼا کوی هلته زمونږ عقل په دې مسئلو کوم چې ډير اهم دې غور کوی

دا مسئلې په کوم چې عقل د پاره غور کول لازمی دې هغه خدائے, ازادی او د روح بقا ده او هغه علم کوم چې پخپله ذمه واری دا مسئلې حل کوی هغې ته مابعدالطعيات وايی دلته که مونږ د کانټ د نظر نه د عقل او مابعدالطبعيات د رشتې تر مينځه خبره وکړو نو بيا به راته ددغه علم د ضروت پيژندنه نوره هم اسانه شې

کانټ ته ددې خبرې افسوس دے چی د نورو انسانی علمونو په شان لکه رياضی او طبعی علوم چی په سمو لارو تلې دې ددې په مقابله کښی مابعدالطبيعات چی د زرګونو کلونو علم دے تر اوسه پورې يی رو ګودر معلوم نه دے او بدقسمتی ددې علم دا ده چی ما بعدالطبيعات لکه د نورو طبعی علمونو په سمه لار نه دے تلے

څنګه چی مابعدالطبعيات په سمه لاره نه دے تلے هم دغه شان په دې پسې انسان عقل سم نه دے روان شوے د کانټ په نظر کښی ددې ستونزې لامل دا دے چی کله هم انسانی عقل د خپل فطرت نه مجبوره شوے دے او د مابعدالطبيعات په ميدان کښی يی قدم کيښودے نو ددی نه هر ځل دا غلطی شوی ده چی په مابعدالطبيعات پسې يی د تګ نه مخکښې خپل ځان ته نه دې کتلې چی زما فطرت څه دے نه عقل د خپل تنقيد او صلاحيت نه ځان خبر ساتلے دے او د عقل دا اهمه غلطی ده ځکه خو عقل هر وخت د مابعدالطبيعات په ميدان کښې تيندکونه خورې کانټ د مابعدالطبيعات اعتراقی صورت مخې ته ږدی او لاس پری راپوری کوی نو د ټولو نه اول خو په تيرو فلسفيانو تنقيد کوی لکه د افلاطون په " اعيان " چی تنقيد کوی نو وايی چی " افلاطون د احساساتو نړۍ پريښوده او ذهن يی په يوه تنګه دايره کښی ګير کړو او پخپله افلاطون چی د اعيان په وزرونو الوتو نو د عقل محض ماورا خلا ته ورسيدو خو افلاطون غور نه وو کړے چی د ټولی

سترې باوجود زه يو قدم هم مخکښې نه يم تلے د انسانی عقل هميشه داسی حشر کيږی چی دوی دلته يو عمارت ډير زر ودروی خو دا تحقيق وروسته کوی چی ددی عمارت بنياد مضبوط دے او که نه ؟ بيا ډير ناکامه تاويلونه کتلے کيږی چی د عمارت د استحکام څه دلاسه ځان له ورکړی او يا چی اوبه د ورخه تيرې شی نو دا تحقيقونه هم اکثر نه کيږې

کانټ د مابعدالطبيعات په ميدان کښی د فلسفيانو يا د انسانی عقل پرمختګ د نه کولو بنيادی وجه دا ښايې چی فلسفيانو هر ځل دا غلطی کړی ده چی د شيانو په اړه کوم بديهی او ترکيبی صداقتونه وی کوم چی زمونږ ذهن کښی په بديهی توګه موجود وې د شيانو تقسيم وکړی او بيا يی تحليلی تشريح کوی او دغه شان دا پخپله تيندکونه خوری او ددی وجه دا ده چی عقل په خپل ګريوان کښی نه دې کتلې او نه يی ددی فطری خواهشونو د تکميل د پاره په خپلو صلاحيتونو نظر اچولے دے کانټ د عقل دا اهم خواهش يا فطرت مخی ته کيښودے وو او خپله اهمه فلسفه يی د ډير غور او فکر نه پس دنيا ته وړاندی کړه له دی وجی د کانټ فلسفے ته تنقيدی فلسفه هم وئيلے کيږې

او ارتهر شوپنهار هم "د عقل مابعدالطبعياتی نظام" د کانټ ددې ځانګړې نظر د پاره کاروی کانټ وايې چې کله انسان د تجربې د دنيا نه اخوا لاړ شې نو دا ځان مطمين محسوسوی چې تجربه ترديد نشې کولے او انسان ته د خپل علم د توسيع خيال دومره د کشش نه ډک دے چې په لاره کښې ورته لوئ خنډ نه وې راغلے نو دا مسلسل مخکښې روان وې لکه رياضی زمونږ مخې ته يو مثال دے چې مونږ د تجربې نه ازاد يو او په بديهی علم کښې اضافه کوو په اصل کښې رياضی د معروضاتو او معلوماتو سره دومره تعلق لری څومره پورې چې دا په مشاهده کښې راځې خو خلک دا خبره نظر انداز کوی ځکه چې مشاهده پخپله بديهی کيدلے شې او په دې او پيور ريزن کښې فرق ونکړے شې او د عقل د قوت دا ثبوت چې وينې نو د علم د پراختيا ارزو يی نور هم زور واخلی

لکه څنګه چې پورته مونږ د افلاطون خبره وکړه او دلته بيا د عمارت مثال راخلو چې ددغه عمارت په ظاهری استحکام چې زمونږ زړه خوږيږی نو دا کار زمونږ د عقل يوه لويه حصه کوی چې دهغه تصوراتو په تحليل مشتمله وې کوم چې مونږ د معروضاتو متعلق لرو دغه شان مونږ ته ډير معلومات حاصل شې په کوم کښې چې صرف ددغه مفهوم وضاحت کيږی خو دا زمونږ په تصوراتو کښې د مخکښې نه موجود وې خو دا معلومات زمونږ په تصوراتو کښې په معنوی حيثيت سره

ددې تحلیل کوی او د نوو معلوماتو برابر کنلے کیږی ددې عمل په ذریعه سره بدیهی علم حاصلیږی نو عقل یی د محسوس کولو نه بغیر د بدیهی علم په نوم د نورو ججمنټس سره راوړاندې کړې په کوم کښې چې د شته تصور سره نوے تصور بغیر د تجربی د مدد نه تړلے کیږی او مونږ ته دا معلوم نه وې چې دا تصور ددې د کوم ځائے نه راغلے بلکی زمونږ په ذهن کښې د سر نه دا سوال هم نه پیدا کیږی له دې وجې نه کانټ وایې چې زه د پیژندګلو د اول سر نه د علم ددې دواړو قسمونو په فرق خبره کوم

## 4. په تحلیلي او ترکیبي ججمنټس کښې فرق

د کانټ په کتاب کښې دلته د کانټ نه پس په علمیات، مابعدالطبعیات او منطق کښې چې کوم بدلون راځې په هغې کښې د تحلیلي او ترکیبي ججمنټس لوئ لاس وو چې کانټ یې په دې کتاب کښې خبره کوی

مخکښې له دې نه چې مونږ د analytic او synthetic ججمنټس تر مینځه فرق وپېژنو مونږ له به د ګرایمر subject او predicate پېژندل پکار وې ـــــ که زه د مثال نه واضح کړم چې " سپے منډه وهې" نو دلته "سپے" سبجیکټ او "منډه وهې" پریډیکیټ دے یعنی سبجیکټ هغه څه وې په څه پسې چې مونږ خبره کوو او پریډیکیټ هغه څه وې د څه په باره کښې یې چې مونږ دغه خبره وایو

دلته به مونږ اول analytical ججمنټ په اسانو لفظونو کښې واضح کړو

نو اولنۍ خبره دا چې دا ججمنټ به د خپل تعریف نه رښتیا وی ـــ دویمه دا چې پریډیکیټ به په سبجیکټ کښې دننه وې دریمه دا چې د سبجیکټ سره به نوې معلومات نه ایډ کیږی او څلورمه دا چې دا مونږ بغیر د تجربې نه پېژندلے شو

وس که مونږ یې د مثال نه واضح کړو نو دا به نوره هم اسانه شي

"ټول پیشوګان ځناور دې "

دلته پیشوګان سبجیکټ دے او " ځناور دې" پریډیکیټ دے او دا پریډیکیټ په دې سبجیکټ کښې دننه دے او د پیشوګانو تعریف دلته دا شوے چې دا ځناور دې ددې مطلب دا دے چې پیشوګان د ځناورو یو قسم دے نو دا ججمنټ د خپل تعریف نه رښتیا دے

دویم synthetic ججمنټ دے

دا هغه ججمنټ وې چې د سبجیکټ سره نوې معلومات ایډ کوی او دې ججمنټ کښې به پریډیکیټ په سبجیکټ کښې دننه نه وې او دا مونږ د تجربې نه پېژندلے شو

لکه مثال په توګه ـــ

"اسمان شین دے"

دلته "اسمان یعنی سبجیکټ د پریډیکیټ یعنی "شین دے " نه جدا دے دویمه دا چې دلته شین رنګ د اسمان" د سبجیکټ سره نوې معلومات ایډ کوی او بله دا چې دا ججمنټ مونږ د مشاهدی او تجربی نه پیژندلے شو

د تجربی ټول ججمنټس synthetic وې خو ایا داسې ججمنټس شته چې هغه د سبجیکټ سره نوې معلومات ایډ کوی خو چې د تجربی نه ازاد وې؟ بلکل... کانټ داسې ججمنټ ته synthetic apriori ججمنټ وایی

دا هغه ججمنټ وې چې بدیهی وې یعنې د تجربی نه ازاد وې او نوې معلومات هم ایډ کوی چې مونږ یی صرف د reason په ذریعه پیژندلے شو او اهمه خبره دا چې دا به ضرورت او افاقیت هم لری

لکه مثال په توګه

$$2 \times 2 = 4$$

دا مثال داسې دے چې دې د پاره مونږ جسمانې شیان نه حسابوو بلکی د نمبرز د ریزننګ نه یې معلوموو

دلته د synthetic apriori خبره اوږده ده او سوالونه هم لری خو دا خبره زه د ددې ججمنټ په اړه د یو سوال په جواب کښې کوم چې مخکښې را روان دې

## 5. په ټول نظري عقلي علمونو کښې بدیهي ترکیبي ججمنټس د بنیادي اصولو په حیثیت سره شامل دي

د انساني عقل د ماهرینو څخه دا خبره پټه وه چې د ریاضۍ ټول ججمنټس ترکیبي وې دا ډیره اهمه خبره وه او ددې ماهرینو د نظر نه یواځې دا خبره پټه نه وه بلکې د دوی ټول مفروضات ددې پر ضد وو چې دا یو نا قابل تردید او اهم حقیقت دے او د فطرت دا تقاضه ده چې هر بدیهي حقیقت به د تردید نه پاک وې

مونږ به د مثالونو نه دا خبره واضحه کړو

اولنۍ خبره مونږ له په ذهن کښې دا کښېنول پکار دي چې د ریاضۍ ټول ججمنټس بدیهي وې او تجرباتي نه وې ځکه چې په دې کښې نیسیسټۍ موندلے کیږي کوم چې د تجربې څخه نه اخذ کیږي دلته کانټ وایي که خلک دا خبره تسلیم نکړي نو زه به بیا خپله خبره د سوچه ریاضۍ پورې محدود ساتم د کوم د تصور نه چې ظاهریږي چې دا علم تجرباتي نه بلکې خالص بدیهي علم دے

شاید په اولنۍ نظر کښې یو څوک دا خیال وکړي چې 5 ± 7 = 12 یو تحلیلي ججمنټ دے چې د 5 او 7 د میزان نه جوړ دے خو که لګ په ژور نظر دې ته وګورو نو بیا به معلومه شي چې د 7 او 5 دا میزان نور هیڅ هم نه دے بلکې دا دواړه اعداد په یو عدد کښې جمع شوې دي خو ددې نه دا بیخي نه معلومیږي چې مونږ هغه واحد عدد معلوم کړو چې ددې دواړو اعدادو مرکب وې او که مونږ ددې جوړ شوې میزان هر څومره تحلیل وکړو خو دې کښې مونږ ته د 12 عدد هیڅ کله نشی میلاویدلے لکه مثال په توګه که مونږ د خپل لاس پنځه ګوتو ته وګورو یا د پنځه نقطو په مدد سره دا مشاهده وکړو نو بیا به اسانه وې او بره چې مونږ کومه مشاهده وکړه په هغې کښې د 5 اکائیانې د 7 د عدد سره ځانله ځانله جمع کړو

اول به مونږ د 7 عدد واخلو او بیا د 5 د تصور په ځائے د خپلو پنځه ګوتو د مشاهدې د حیثیت په مدد سره هغه اکائیانې چې مونږ د 5 په عدد کښې جمع کړي وې یوه یوه به د 7 د تصور سره یو ځائے کوو او دغه شان به د 12 عدد پیدا شي دا خبره چې مونږ به 5 د 7 سره یو ځائے کوو دا مونږ ددې په تصور کښې دننه خیال کړے وو خو دا پکښې مونږ نه وو خیال کړے چې ددې میزان یعنې جمع به د 12 برابر وې دا خبره به هلته ډیره واضحه شې چې مونږ د لویو اعدادو مثال

واخلو او بیا مونږ دا حقیقت ووینو چې مونږ که خپل دغه تصورات هر څومره چاڼ کړو خو صرف ددې د تحلیل نه بغیر او بی له مشاهدی مونږ د اعدادو جمع هیڅ کله نشو معلوموړے

وس به دا ثابته شوی وې چې د ریاضۍ ټول ججمنټس ترکیبی وې

دغه شان د جیومیټرۍ بنیادی ججمنټس هم تحلیلی نه وې لکه دا ججمنټ چې د دوه پواینټونو په مینځ کښې سیده لاین یو وړوکے لاین وې نو دا یو ترکیبی ججمنټ دے ځکه چې زمونږ په ذهن کښې د سیده لاین کوم تصور وو په دې کښې لوئ او وړوکے شامل نه وو بلکی دا صرف په یو کیفیت باندی مشتمل وو

دویمه خبره په ذهن کښې دا کښېنول پکار دې چې په طبعیات کښې بدیهی ترکیبی ججمنټس د علم د اصولو په حیثیت سره شامل دې

لکه څنګه چې کانټ د دوه ججمنټس مثال ورکوی چې په مادی دنیا کښې په ټولو بدلونونو کښې د مادے مقدار بی بدلونه پاتې کیږی۔۔۔ او دویم دا چې د حرکت په ربط کښې عمل او رد عمل برابر وې

وس دلته ددې دواړو ججمنټس څخه نه صرف دا ظاهریږی چې دا نیسیسټی او بداهت لری بلکی د ترکیبی ججمنټس ثبوتونه هم لری ځکه چې دا ماده په خپل مکان کښې موجود ده دلته کانټ د مادے د حدودو نه تجاوز وکړی او په بدیهی توګه د مادے د صفت دغه خیال رامخې ته کړی لنډه دا چې دا ججمنټ تحلیلی نه بلکی ترکیبی دے او ددې باوجود بدیهی هم دے یعنی دا بدیهی ترکیبی ججمنټ دے

دریمه خبره دا چې مابعدالطبعیات مونږ یو داسې علم ګڼو چې د کوشش د حد نه اخوا نه دے تلے خو بیا هم د انسانی عقل د فطرت په لحاظ سره ضروری دے چې په بدیهی ترکیبی ججمنټس باندی مشتمل کیدل پکار دې ددې دا کار بیخی نه دے چې په بدیهی توګه باندی د شیانو کوم تصورات زمونږ په ذهن کښې موجود وې دا په اجزا کښې تقسیم کړی او ددې تحلیلی تشریح وکړی بلکی مونږ په دې علم کښې د خپل بدیهی علم توسیع غواړو او ددې د پاره مونږ ته داسې ججمنټس نه کار اغستل غواړی چې د شته تصور سره د یو نوی تصور اضافه وکړی

## 6. د سوچه عقل عامه مسئله

دا کار به ډیر فایده مند وي چي مونږ ډیر سوالونه د یو سوال لاندې راولو ځکه چي ددې څخه نه مونږ صرف د خپل کار صحیح تعین کولے شو او د ځان د پاره اسانتیا پیدا کولے شو بلکی هغه خلک کوم چي زمونږ کار د خپل نظر نه تیرول غواړی هغوی ته به هم دا فیصله اسانه وي چي مونږ په خپل مقصد کښې کامیاب شوی یو او یا نه ---

اصل مسئله کوم چي سوچه عقل له حل کول پکار دې هغه دا ده چي

How are synthetical judgements apriori possible ?

یعنی بدیهی ترکیبی ججمنټس څنګه ممکن کیدلے شی؟

د مابعدالطبعیات تر اوسه پورې د تردید په میدان کښې د پاتې کیدلو یو سبب دا دے چي خلک ددې مسئلې نه بلکی شاید چي د انالیټک او سینتیټک ججمنټس د فرق څخه هم خبر نه وو ددې مسئلی په حل کیدلو باندی یا ددې خبرې په پوره ثبوت باندی چي د کوم څیز تشریح مابعدالطبعیات غواړی هغه هډو ممکن نه ده چي ددې پورې ددې علم د نیشت او د شتون اړتیا ده

د کانټ نه په مخکښینی فلسفیانو کښې ډیوډ هیوم دې مسئلې ته ډیر نزدی رسیدلے وو خو هغه هم په پوره وضاحت سره په کلی حیثیت باندې په دې غور نه وو کړے بلکی خپله توجه يې د cause او د effect تعلق يې د سینتیټک ججمنټ پورې محدود ساتلے وو او په خپل خیال کښې يې دا ثابت کړی وو چي دا قسم ججمنټ بدیهی نشې کیدلے او د هغه د تحقیقاتو د رو نه مابعدالطبعیات په دې وهم باندې ولاړ دے چي کوم معلومات په اصل کښې د تجربی نه اخذ شوې دې او د خپل عادت له وجی په ظاهره باندی نیسیسټی حاصلوی نو مونږ يې په غلطۍ سره عقلی معلومات ګڼو که دا مسئله په کلی حیثیت سره په غور کښې راغلی وے نو هغه به دا دعوی کوم چي د خالصو فلسفیانو جوړې هم را کنی هیڅ کله نه کوله ځکه چي د هیوم د استدلال نه خو سوچه ریاضی هم څه څیز نه دے ولی چي دا سوچه ریاضی هم په بدیهی ترکیبی ججمنټس باندی مشتمله وې

وس دویم سوال دا دے چي سوچه ریاضی څنګه ممکن کیدلے شی؟ او ددې سره سوچه نیچرل ساینس څنګه ممکن کیدلے شی؟

دا علمونه واقعي موجود دې ددې په اړه دا سوال ډير په ځاےُ دے ځکه چې ددې ممکن کيدل ددې د موجودګۍ نه ثابتيږي دلته کيديشي بعضي خلکو ته شک وی خو ددې مختلف ججمنټس چې د اصلي يعني تجرباتي طبعيات په شروع کښې راځي لکه مثال په توګه چې د مادے مقدار بې بدلونه پاتې کيږي, د مادے جمود او يا د عمل او رد عمل برابر کيدل وغيره ـ ـ ـ په دې ججمنټس چې مونږ نظر واچوو نو دا پته راته لګی چې دا سوچه يا عقلي طبعيات جوړوی او دا ددې مستحق دې چې د ځانله علم په حيثيت سره خواه که ددې دايره تنګه يا وسيع وی بلکل جدا کيدل پکار دې

وس د مابعدالطبعيات د علم خبره پاتې کيږي د کوم چې تر اوسه پوری يو غير مطمين تګ پاتې دے دې ته چې څوک ګوری نو ددې علم په ممکن کيدلو کښې به شک کوی ځکه چې د مابعدالطبعيات څومره نظريې تر اوسه پوری راوړاندې شوې دې د يوی متعلق هم که مونږ د اصل مقصد لحاظ وساتو نو دا نشو وئيلے چې واقعي د مابعدالطبعيات علم موجود دے

بيا هم په يوه ځانګړې معنی کښې د داسې قسم علم وجود تسليمول پکار دې او که د علم په حيثيت سره نه وې نو د فطري رجحان په حيثيت سره دا علم ضرور موجود دے ځکه چې انساني عقل د خپلو ضرورياتو څخه مجبوره وې او ددې مسئلو په تحقيق کښې لګيا وې چې دا ددې د تجربې يا د تجربې نه اخذ شوی اصولو باندی نه حل کيږي خو بيا هم د انساني عقل د فکر درجو ته که مونږ ورسيږو نو د مابعدالطبعيات يوه نيمه نظريه پکښې خامخا موجود وې او دا به هميشه موجود وې ځکه چې ددې متعلق دا سوال پيدا کيږي چې مابعدالطبعيات د يو فطری رجحان په حيثيت سره څنګه ممکن دے يعني دا سوالونه کوم چې عقل د خپل ځان نه کوی او ددې سوالونو د جوابونو ضرورت يې مجبوروی خو دلته مسئله دا ده چې دا سوالونه په عام انساني عقل کښې ولې پيدا کيږي ؟

دا فطری سوالونه يعني دا دنيا څنګه پيدا شوه ؟ وغيره ددې د جوابونو چې څومره کوششونه تر اوسه پوری شوې دې نو په دې کښې خامخا څه ترديد موجود وې نو دلته مونږ له وس ددې علم د شتون او نيشت يقيني فيصله کول پکار دې يعني يا مونږ ته د سوچه عقل د سوالونو د معروضاتو مکمل علم حاصلول پکار دې يا مونږ ته دا فيصله کول پکار دې چې دا

سوچه عقل د کوم حد پوری ددې سوالونو په جوابونو ورکولو کښې قابل یا ناقابل دے او یا مونږ ته خپل عقل له توسیع ورکول پکار دې او یا ددې یقینی حدود مقرر کول پکار دې

وس ددې عامې مسئلې نه دا سوال پیدا کیږی چې د علم په حیثیت سره مابعدالطبعیات څنګه ممکن کیدلے شی ؟

لنډه دا چې د عقل د تنقید نه مونږ ته په اخر کښې لازمی علم حاصلیږی خو دلته ددغه علم دایره دومره پراخه نه ده پکار چې مونږ ددې د پراخوالی نه ویریږو ځکه چې دا د عقل د بی شمیره موضوعاتو سره بحث نه کوی بلکی صرف د سوچه عقل سره یعنی هغه مسئلې چې ددې دننه پیدا کیږی او دا مسئلې هم د مختلفو شیانو فطرت نه بلکی پخپله ددې د فطرت نه پیدا شوی وی له دې وجې نه چې عقل ددې خبرې نه خبر شی چې دا د تجربی د معروضاتو د علم په حاصلولو کښې قابلیت لری نو په اسانی سره د خپل استعمال حدود هم وټاکی په کوم کښې چې د تجربی د حدودو نه اخوا د تګ کوشش کیږی

د مابعدالطبعیات په بیلابیلو نظریو کښې چې څومره تحلیلی عنصر دے یعنی ددې تصوراتو تجزیه چې زمونږ په عقل کښې په بدیهی توګه موجود ده دا د حقیقی مابعدالطبعیات صرف یوه ذریعه ده مقصد نه ـ ـ ـ ددې مقصد به دا وې چې مونږ خپل بدیهی علم له په ترکیبی توګه توسیع ورکړو او دا ددې تحلیل په ذریعه نه پوره کیږی ځکه چې دا مونږ ته صرف دا ښایې چې ددې تصوراتو دننه کوم اجزا شامل دې دا نه ښایې چې مونږ دا تصورات په بدیهی توګه څنګه حاصلولے شو

که دلته مابعدالطبعیات ددې خپلو ټولو دعوو نه لاس په سر شې نو په دې کښې ددې هیڅ توهین نشته او عزت یې په دې کښې دے چې مونږ د دننی ستونزو او بهرنی مزاحمتونو څه پرواه ونکړو او دا علم چې د انسانی عقل د فطرت په لحاظ سره ډیر اهم دے چې ددې ټول ښاخونه مونږ لری کولے شو خو ددې جرړې نشو نو په یوه بله طریقه ددې لویول او خیال ساتل دې چې ددې نه لویه ونه جوړه شی

دا سوال چې " بدیهی ترکیبی ججمنټس څنګه ممکن کیدلے شی؟" په دې په اخر کښې تفصیلی خبره کوو

## 7. د تنقید عقل محض په نوم د یو ځانګړی علم تصور او ددې تقسیم

بره چې مونږ څومره بحث وکړو ددې ټول بحث نه د یو ځانګړی علم تصور پیدا کیږی او هم دې ته مونږ " تنقید عقل محض" وئیلے شو دلته عقل هغه فیکلټی ده د کوم نه چې مونږ ته بدیهی علم حاصلیږی او عقل محض یا سوچه عقل هغه فیکلټی ده کوم چې په خالص بدیهی علم مشتمل وې او د سوچه عقل organon یا دستور د هغه اصولو مجموعه ده د کوم د لاندی چې خالص بدیهی علم حاصلیږی او حاصلیدے شی او چې دا organon یا دستور په بشپړه توګه په عمل کښې راشی نو د سوچه عقل نظام جوړوی خو دا وروسته خبره ده

بره چې مونږ کوم بحث وکړو د هغې نه دا نشی معلومیدلے چې زمونږ د بدیهی علم پراختیا ممکن ده یا نه.. او که ممکن ده نو په کومو صورتونو کښې؟ له دې وجې نه دا علم کوم چې صرف د سوچه عقل د معلوماتو په حدودو یا ماخذ خبره کوی دې له مونږ د سوچه عقل د نظام د تمهید حیثیت ورکولے شو او دې ته مونږ د سوچه عقل نظریه نه بلکی د سوچه عقل تنقید وایو او ددې فایده به دا وې چې د فلسفیانه فکر د لحاظ نه به دا صرف منفی وې یعنی دا تنقید به زمونږ د عقل د توسیع نه بلکی د تشریح ذمه وار وې او هم دا به عقل د مغالطو نه محفوظ ساتی چې دا ددې تنقید ډیر لوئ خدمت دے دلته کانټ دې ټول عمل ته Transcendental وایې کوم چې په معروضاتو نه بلکی د معروضاتو د علم د حاصلولو په طریقی باندی خبره کوی او بیا تر څومره پورې چې دا علم په بدیهی توګه حاصلیدے شی ددې تصوراتو مکمل نظام ته Transcendental philosophy وایې او ددې دایره د کانټ په اند د حد نه زیاته پراخه ده ځکه چې مونږ له تحلیل د هغه حد پورې پکار دے تر څو پورې چې دا د بدیهی ترکیب د اصولو د معلومولو د پاره لازمی دے

دې وخت کښې مونږ له دا تحقیق کول دې کوم ته چې مونږ د یو ډاکټراین نه بلکی د یو ټرانسینډینټل کریټیک نوم ورکولے شو ځکه چې ددې مقصد د علم توسیع نه بلکی تصحیح او د ټول بدیهی معلوماتو د قدر او قیمت د ناپ کولو یو معیار وړاندې کول دې دا تنقید ددې تیارې ده چې که کیدلے شوه نو یو organon یا یو canon جوړ شی او هم ددې مطابق به د سوچه عقل د فلسفے یو مکمل نظام چې ترکیبی او تحلیلی دواړه وې" جوړ کړی

کانټ زیاتوی چې ددې نظام جوړول ممکن دې ځکه چې ددې دایره دومره پراخه نه ده او دا اندازه ددې خبرې نه کیږی چې زمونږ د بحث موضوع د شیانو لا محدوده فطرت نه دے بلکی عقل دے کوم چې د شیانو علم حاصلوی او بیا په دې عقل کښې هم زمونږ د بحث موضوع د بدیهی ترکیبی علم سره تعلق لری له دې وجې نه مونږ ددې محدودی دایری د قدر او قیمت شناخت کولے شو بیا کانټ دا هم وایې چې ټرانسینډینټل فلاسفی د یو داسې علم تخیل دے چې ددې نقشه تنقید عقل محض له په تعمیری حیثیت سره جوړول پکار دې او ددې عمارت د یو یو کاڼی په مضبوطیدلو ځان مطمین کول دې

پخپله دې تنقید ته مونږ صرف د یوې وجې نه ټرانسینډینټل فلاسفی نشو وئیلے او هغه دا چې د یو مکمل نظام جوړیدلو د پاره دې له د انسان د ټول بدیهی علم په یو تفصیلی تحلیل مشتمل کیدل پکار وو په تنقید عقل محض کښې دا تفصیلی تحلیل نظر انداز شوے دے او د ددې دوه وجې دې

اولنۍ دا چې ددې تحلیل نه څه خاص فایده نشته ځکه چې په دې کښې د هغه شکونو ځائے نشته کوم چې په ترکیب کښې موندلے کیږی د کوم د پاره چې د تنقید ضرورت راځي

دویمه دا چې د کانټ د منصوبی د وحدت خلاف خبره دا ده چې ددې تحلیل د مکمل کیدلو ذمه داری په خپل سر واخلی او نه کانټ خپل مقصد ددې تحلیل پابند جوړوی خو هغه بدیهی تصورات کوم چې مخکښې راروان دې د هغې مکمل تحلیل به په اسانۍ سره وشی کله چې دا ټول بنیادی تصورات د ترکیبی اصولو په حیثیت سره مخکښې راشی

لنډه دا چې په تنقید عقل محض کښې د ټرانسینډینټل فلاسفی ټول لوازمات موجود دې او دا تنقید ددې فلسفے په ټول تصور حاوی دے خو بیا هم دا تنقید پخپله ټرانسینډینټل فلسفه نه ده ځکه چې دا تحلیل د هغه ځائے پوری کوی څومره پورې چې د بدیهی تجربی علم د تحقیق د پاره لازمی وې

ددې علم په تقسیم کښې دا خبره په نظر کښې ساتل پکار دې چې دې ته داسې تصورات را دننه نشی په کوم کښې چې د تجربی جز شامل وی یعنی د بدیهی علم بلکل خالص کیدل لازمی دې کوم ته چې مونږ بره absolute apriori علم وئیلے وو لکه د اخلاقو ټول بنیادی احکام او تصورات د بدیهی علم حیثیت لری خو بیا هم دا په ټرانسینډینټل فلاسفی کښې نه راځي ځکه چې

دا د خوشحالۍ او غم, د ارمان او رجحان وغيره تصوراتو سره تعلق ساتی کوم چې ټول په ټوله د تجربې نه اخذ شوې وې پخپله د اخلاقی حکمونو بنياد په خواهشاتو او رجحاناتو باندی نه صحيح, خو بيا هم د فرض د تصور په سلسله کښې که د ستونزو د لرې کولو په شکل کښې وې يا د رغبت په شکل کښې وې کوم ته چې زمونږ د کارونو محرک جوړيدل نه دې پکار, دا احکام دغه تجرباتی تصورات د خالص اخلاقياتو په نظام کښې دننه کوی

له دې وجې نه ټرانسينډينټل فلسفه د سوچه عقل فلسفه ده ځکه چې په عملی مسئلو کښې په کوم ځائے کښې د عمل د محرکاتو مداخلت وې هغه د جذباتو سره تعلق ساتی کوم چې د تجرباتی علم نه اخذ کيږی

وس که مونږ د يو نظام نه د ددې علم تقسيم د يو عام نقطه نظر نه وغواړو نو دا به دوه قسمونه لرې يو د مبادياتو او بل د منهاج ـــ او ددې دواړو قسمونو به مخکښې نور قسمونه وې په اخر کښې کانټ دا خبره راغونډه کړی او وواېې چې د انسانی علم دوه شعبې دې د کومو چې شايد يو مشترک اصل وې او مونږ ترې خبر نه يو يعنی عقل او حس ـــ د کومو په ذريعه چې معروضات زمونږ مخې ته وړاندې کيږی او د عقل په ذريعه مونږ ددې خيال کوو د کوم ځائے پورې چې په حس کښې بديهی ادراکات شامل وې د هغه ځائے پورې به دا د ټرانسينډينټل فلسفے د لاندی راځې او په دې باندی کانټ د خپل کتاب په اولنی سر کښې خبره کوی او دې له کانټ دا دليل راوړی چې هغه شرطونه د کومو مطابق چې انسانی علم ته معروضات راوړاندې کيږی د هغه شرطونو نه مخکښې پکار دے د کوم مطابق چې خيال کيږی يعنی لنډه دا چې د sensebility فيکلټی به د reason د فيکلټی نه مخکښې راځې

<u>**دا پيژندګلو په دې ځائے ختمه شوه**</u>

## د یو څو اصطلاحاتو وضاحت

د پېژندګلو پوری محدود مونږ دا اصطلاحات په یو محدود انداز کښې واضح کولے شو چې د کانټ د فلسفے په لوستلو کښې مدد راکولے شي

### canon and organon/دستور او ضابطه

ددې دواړو لاری د ایپیکورس د علمی میدان نه راغلی دې خو د دستور یا organon نه د کانټ مطلب دلته د اصولو هغه مجموعه ده چې مونږ پرې د مظاهرو علم حاصلولے شو او زمونږ ادراک غزوې او/canon ضابطه د هغه اصولو مجموعه ده چې مونږ پرې د صحیح او غلط ججمنټ تمیز کولے شو

د کانټ په فلسفه کښې دا دواړه ځکه اهم دې چې په دې کانټ د عام منطق سره یوه دعوی تړی چې عام منطق دستور نه بلکی یوه ضابطه ده

### concept/تصور

کنسیپټ د کانټ په فلسفه کښې په مختلفو معنیو کښې استعمالیږی لکه چې دا به د امکانې ججمنټ پریډیکیټ وی, ددې کار به د وحدت پیدا کول وې, دا اصول دې, او دا به همیشه عام وې ــــ او داسې ځائے په ځائے ځانله ځانله مطلبونه لرې

### metaphysics/مابعدالطبعیات

د مابعدالطبعیات تعریف کانټ پخپله داسې کوې چې ځنی معلومات زمونږ د امکانی تجربی نه پرته وې چرته چې تجربه مونږ ته لاره نه رښا کوی هلته زمونږ عقل د خدائے, اختیار او د روح د بقا هسې په اهمو مسئلو غور کوی او کوم علم چې په خپله ذمه واری دا اهمې مسئلې حل کوی هغه علم ته مابعدالطبعیات واېي

### experience/تجربه

په پېژندګلو کښې تجربه په دوه مختلفو معنو کښې استعمال شوی ده اوله دا چې احساس او تفهیم کوم کار یو ځائے کوی د هغې پیداوار تجربه ده او بل د احساس خام مال تجربه ده

د پېژندګلو د وضاحت سره خو زما په خیال انصاف ونشو البته دومره ضرور کیدلے شی چې ددې سره څه خلک د کانټ مطالعی ته متې بډی کولے شی یو اهم سوال چې بدیهی ترکیبی ججمنټ څنګه ممکن کیدلے شی؟ دا هغه څیز دے چې کانټ یې په خپل ټول کار کښې لټوی نو ددې سوال جواب د

شوې لیکلو نه زیات لیکل غوښتل او زما د اول نه دا اراده نه وه خو په زړه به مې پاتې وې البته د پیژندګلو د حد پورې ددې سوال جواب کافي په وضاحت سره شوے دے دا لیکل دلته عارضی توګه باندې ختمیږی په یو منظم انداز دا کار سر ته رسول وخت او خیر غواړی او زه به دې له بیا راځم